AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال
۲۰۲۰/۰۵/۱۵

# که سوالګر یو، یو به،

## نو بېغیرته خو نه یو!!!

خیرات خواره مانا سوالګر ول، دلته د خیرات په پیسو پسي راغلي او خیرات اخیستو ته په کتار کي ولاړ ول، چي ناڅاپه یي په وار (نوبت) سره شخړه شوه. د ( غیرت!) چېغي شوي...برېتونه سره تاو شول...

په څو شېبو کي د ګڼو ګدایي ګرو له شلېدلو جندو لاندي ټوپک راووتل. یو بل یي سره وویشتل او اته نهه ووژل او بي شمېره ټپیان شول .

هغوی چي خیرات ورکاوه، وازه خوله هېښ پاتي ول، چي که دا سوالګر دي، نو ټوپکونه ورسره له کومه شول؟

د خیرات ورکوونکیو هېره وه، چي دهمدوی پلرونو دغو سوالګرو ته ټوپک ورکړي وو او سوالګرو د غیرت لپاره تل له ځان سره ساتل.

دوی په دي باور ول، چي:

که سوالګر یو، یو به، نو بېغیرته خو نه یو!!!




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ